پرله پسې شمیره: ( ۱۰۹ )

نیټه: ۱۳۹۳/۷/۱۷

**د نورستان ولایت د ولایتي شورا د کاندیدانو د شکایتونو په اړه وروستۍ پرېکړه**

د ۱۳۹۳ کال د ولایتي شوراګانو له ټاکنو وروسته د ټاکنو د قانون د ۶۳ مې مادې د (۲ ) فقرې او د ټاکنیزو شکایتونو او اعتراضونو د ثبت اورسیده ګی طرزالعمل د ۶ مې مادې د حکم پر بنسټ د نورستان ولایت په انتخاباتي حوزې پورې اړوند (۶۵ ) مورده ټاکنیز شکایتونه د انتخاباتي شکایتونو په خپلواک کمیسیون کې ثبت شوي دي. د دې شکایتونو له جملې څخه ( ۳۶ ) مورده يې د ټاکنو د ورځې د تخلفاتو او درغلیو اړوند وو، چې د رايې ورکولو پر مهال او د ټاکنو د ترسره کېدو له ورځې وروسته د ۴۸ ساعتونو په موده کې د کاندیدانو او د هغو د استازو له خوا د ټاکنیزو شکایتونو په خپلواک کمیسیون کې ثبت شوي او (۲۹ ) شکایتونه د لومړنیو پایلو په اړه وو، چې د پایلو تر اعلان وروسته د ټاکنیزو شکایتونو د ثبت او رسیده ګی د طرزالعمل د ۱۴مې مادې له مخې د ۲۴ ساعتونو په موده کې د کاندیدانو له خوا ثبت شوي دي.

د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ثبت شوي شکایتونه د انتخاباتو د قانون د ۶۶ مې مادې د (۱) فقرې، د ذکرشوي قانون د ۶۳ مې مادې د (۲) فقرې او د ټاکنیزو کمیسیونونو د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۶ مادې د (۸) فقرې او د ثبت اورسیده ګی طرزالعمل د ۳۰ مې مادې پر بنسټ د ۱۵ / ۳ / ۱۳۹۳ نېټې په علني غونډه کې، چې د انتخاباتي کمیسیونونو د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۴ مې مادې د (۳) فقرې او د ثبت او رسیده ګی طرزالعمل د ۲۴ مې مادې حکمونوته په پام سره دکاندیدانو، سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او ټولیزو رسنیو د استازو او د ملي او نړیوالو څارونکو او کتونکو په حضور کې وڅېړل او د معترضینو د ټولو شکایتونو له اورېدو وروسته یې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۱ ) فقرې پر بنسټ د ټاکنیزې حوزې په کچه د شکایت کوونکو کاندیدانو په غوښتنه د هغو انتخاباتي محلونو د رایو د تفتیش او بیاشمېرلو تصمیم ونیوه، چې په اړه یې شکایتونه ثبت شوي دي.

د نورستان ولایت د ولایتي شورا د رایو د محلونو د تفتیش چارې د رایو د اعتبار د تشخیص او بررسی د لایحې د ۶ مې مادې د (۱) او (۲) مې فقرې له مخې د ټاکنو د قانون د ۵۵ مې مادې د حکم په رعایت سره په لومړنیو پایلو کې د ټاکنو د کمیسیون له خوا د بریالیو اعلان شویو او معترضو کاندیدانو تر څارنې لاندې ترسره شوې.

د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د قانون د ۶۵ ، ۶۸ او ۶۹ مې مادې مطابق او د رایو د تفتیش او څېړنو ، چک لیستونو او اثباتیه مدارکو ته په پام سره د دې ولایت د ولایتي شورا د ټاکنو د هغو محلونو په ابطال

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی

دافغانستان اسلامی جمهوري دولت
د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Electoral Complaints Commission**

چې لیست یې له دې فیصلې سره (۱) شمېره ضمیمه دی، پرېکړه وکړه. همدارنګه د تفتیش د پروسې د چک لیستونو، او اثباتیه مدارکو پر بنسټ یې په مشخصو محلونو کې، چې لیست یې له دې پرېکړې سره (۲ ) شمېره ضمیمه دی د مشخصو کاندیدانو د رایو په ابطال پرېکړه وکړه.

د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون دارالانشاء موظفه ده، چې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۳ ) فقرې او د ذکرشوي قانون د ۶۶ مې مادې د (۴) فقرې د حکم پر بنسټ د بیا شمېرنې د پایلو (۳۴) فورمې ، چې د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د رسمي مهر په وسیله تصدیق او په نښه شوي له دې فیصلې سره مل د تطبیق لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته رسماً ابلاغ او د اجراء په اړه یې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ته رپوټ ورکړي.

پیغمبر قل دوغن غړی

عزیزالله آریافر غړی

ریدا عظیمی مرستیاله

نادر محسنی منشي

عبدالستار سعادت

Add: Kabul, Shash- Darak opposite Askari Club
Independent Electoral Complaints Office.

پته: کابل، نهمه ناحیه، د شش درک ګولایی، کور نمبر 1 او2
دټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون

## ضمیمه شماره (1)

| لیست مراکز و محلات باطل شده شورای ولایتی ولایت نورستان | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شماره | کود مرکز | محل | تصمیم | مجموعه محلات باطل شده |
| 1 | 1603042 | 02 | ابطال محل 02 | 1 |
| 2 | 1602032 | 04 | ابطال محل 04 | 1 |
| 3 | | | | |